


## د رهبرۍ پیغام

**خیرپالو هیوادوالو!** د افغاني سرې میاشتې ټولنه یوه خیریه، ملي او بشرپاله ټولنه ده چې د بشري او ټولنیزو ناخوالو د کمښت په برخه کې د دولت د مرستیال په توګه د سره صلیب او سرې میاشتې د نړیوال غورځنګ د اوه ګونو اصولو په رڼا کې له بیلابیلو لارو خدمتونه وړاندې کوي.

دریمه شمیره:۳ | **خبر پاڼه** | د۲۰۲۰ کال د مارچ میاشت



د افغاني سرې میاشتې ټولنه د سره صلیب او سرې میاشتې د نړیوال غورځنګ د اوه ګونو اوصولو په رڼا کې د طبیعي او غیر طبیعي پیښو پیښځپلیو ته د خیرپاله هیوادوالو، سوداګرو او درنو حاجیانو او مما ثلو همکارو ملی ټولنو په مرسته په ټول هیواد کې بشرپاله خدمتونه وړاندې کوي.
ملي ټولنه د مرکزي روغتون، ګرځنده او ټاکلو کلینیکونو له لارې د هیواد په لرې پرتو نا امنه سیمو کې د ترټولو اړمنو وګړو لپاره روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي. په پینځو مرستونونو کې سلګونه بې مشره کورنی تر ساتنې او روزنې لاندې لرې او همدارنګه د نړیوال سره صلیب او فیدراسیون په ملاتړ یې د رضاکاری او غړیتوب سیستم ته لا پراختیا ورکړې ده.

### پیښو ته د ځواب ورکوونې په برخه کې د ۲۰۲۰ کال د مارچ میاشتې برخمن شوي:

| ولایتونه | د کسانو شمیر | مرستندویه بنسټونه | مرسته شوي توکي |
|---|---|---|---|
| کابل | ۹۰۴۶ | د افغاني سرې میاشتې ټولنه او د چین هیواد د سولې او پراختیا بنسټ | خوراکي توکي |
| دایکندی | ۲۰ | د افغاني سرې میاشتې ټولنه | خوراکي توکي |
| وردګ | ۴۷ | د افغاني سرې میاشتې ټولنه | خوراکي توکي |
| پکتیکا | ۱۷۳ | د افغاني سرې میاشتې ټولنه | خوراکي توکي |
| ننګرهار | ۷۳۴ | د افغاني سرې میاشتې ټولنه | خوراکي توکي |
| لغمان | ۱۱۸۰ | د افغاني سرې میاشتې ټولنه او یونیسف | غیر خوراکي توکي |
| بدخشان | ۱۲ | د افغاني سرې میاشتې ټولنه او یونیسف | غیر خوراکي توکي |
| هرات | ۴۹۲ | د افغاني سرې میاشتې ټولنه | غیر خوراکي توکي |
| هلمند | ۴۲۰۰ | د افغاني سرې میاشتې ټولنه او د سره صلیب نړیواله کمټه | خوراکي توکي |
| ارزګان | ۴۲۰۰ | د سره صلیب نړیواله کمټه | خوراکي توکي |
| **ټولټال** | **۶۵۹۸ تنه** | | |

## د جسدونو د لیږد پروګرام:

د ۲۰۲۰ کال په مارچ میاشت کې په هیواد کې د بېلابېلو پېښو ۴۷ جسدونه خپلو کورنیو ته لیږدول شوي او سپارل شوي دي.

## د پلټنې او لارموندنې پروګرام:

د ۲۰۲۰ کال په مارچ میاشت کې، د بندیانو او هغوی د کورنیو ترمنځ (۱۸) پیغامونه راټول شوي او (۲۰) پیغامونه ویشل شوي دي.

## مرستونونه

د افغاني سرې میاشتې ټولنه په پینځه ګونو مرستونونو (کابل، قندهار، هرات، بلخ او ننګرها) کې ۸۲۵ تنه مشمولین (کونډې، یتمان او رواني ناروغان) تر پالنې او روزنې لاندې لري، چې ۳۲۲ تنه یې رواني ناروغان دي.

---

## د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول

د افغاني سرې میاشتې ټولنې روغتیایي خدمتونه ددې لپاره د اهمیت وړ دي چې په کلیو او بانډو کې د لیرې پرتو سیمو خلک تر خپل پوښښ لاندې راولي، له دې امله په لیرې پرتو سیمو کې د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول، خلکو ته ستر حیاتي ارزښت لري

| | |
|---|---|
| له ۴٦ ثابتو کلینیکونو څخه | ۱۴۸۵۷۶ کسان: برخمن شوي |
| له ۳۴ ګرځنده کلینیکونو څخه | ۳۵۶۶۰ کسان: برخمن شوي |
| د زړه سوري د درملنې پروګرام څخه | ۱۸۶ کسان: برخمن شوي |
| له ۲۰ فرعي کلینیکونو څخه | ۳۲۶۸۶ کسان: برخمن شوي |
| له مرکزي روغتون څخه | ۱۳۷۰۸ کسان: برخمن شوي |
| د اپیل پروژې له ۵ سیارو ټیمونو څخه | ۷۳۲۱ کسان: برخمن شوي |
| د یوه جامع روغتیایي مرکز له لارې | ۱۸۲۶۳ کسان: برخمن شوي |
| **ټولټال** | **۲۵۶۴۰۰ تنه** |



